د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د هلمند ولایت پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت

# د هلمند ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل ـ حوت کال ۱۴۰۴

**مطالبو نوملړ**


د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 5
سریزه ........ 7
د کړنو لنډیز ........ 8
د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 12
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 12
1. 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکې/سواد زده کړو زده کړیال ........ 12
1.2 مدرس/ استاد/ښوونکې ........ 13
1.3 نصاب ........ 14
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 14
1.5 روزنیز چاپیریال ........ 15
1.6 د ټولنې ګډون ........ 16
1.7 مدیریت ........ 16
برنامه ۲: ښوونه او روزنه ........ 16
۲.۱ زده کووونکې ........ 16
2.2 ښوونکې ........ 20
2.3 نصاب ........ 23
2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 24
2.5 روزنیز چاپیریال ........ 24
۲.٦ د ټولنې ګډون ........ 31
2.7 مدیریت ........ 32
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 35
۳.۱ مدیریت ........ 35
برنامه 4: مالي او اداري ........ 38
4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکې/سواد زده کړو زده کړیال ........ 38
4.2 مدرس/استاد/ښوونکې ........ 38
4.3 نصاب ........ 39
4.4 ښونیزه ارزونه ........ 39
4.5 رونیز چاپیریال ........ 39
4.6 د ټولنې ګډون ........ 41
4.7 مدیریت ........ 41
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........ 43
5.1 طالب العلم/ حافظ/ زده‌کوونکې/ سواد زده کړو زده کړیال ........ 43

5.2 مدرس/استاد/ښوونکې ........................................................ 43
5.3 نصاب ........................................................ 43
5.4 ښوونیزه ارزونه ........................................................ 44
5.5 روزنیزه ارزونه ........................................................ 44
5.6 د ټولنې ګډون ........................................................ 44
5.7 مدیریت ........................................................ 44
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................................ 45
د پایلې او شننې لنډ جدول ........................................................ 45
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................ 49
مالي راپور تحلیل ........................................................ 51

## د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنۍ نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/واتساپ | |
|---|---|---|---|---|
| مولوی عبدالله (محسن) | د کیفیت تضمین آمر | برېښنالیک نلري | 0731309193 | |
| مولوی عبدالله (ذاکر) | ښوونې او روزنې آمر | برېښنالیک نلري | 0703002339 | |
| مولوی عبدالرازق (حکیمی) | د منابع او اداري آمر | برېښنالیک نلري | 0744435342 | |
| قاري مولوی عبدالسلام (مسلم) | د اسلامي زده کړو آمر | برېښنالیک نلري | 0704767534 | |

د پوهنۍ د رییس تاییدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | گرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوی محمد عوض (انصاری) | د هلمند ولایت پوهنې رئیس | برېښنالیک نلري | 0704729685 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات



د هلمند ولایت د افغانستان د ولایتونو څخه پراخه ولایت دي، چې ( 61829 ) کیلومتره مربع مساحت لري، چې د ټول هیواد لسمه برخه خاوره تشکیلوي، چې شمال ته یې غور او دایکندي ولایتونه او ختیځ ته یې ارزگان او کندهار ولایتونه، لویدیځ ته یې فراه او نیمروز ولایتونه او جنوب طرف ته یې د پاکستان هیواد گډه پوله لري.

دهلمند ولایت گرځنده او تاریخي ساحې لري، چې مرکز یې د لښکرگاه ښار دي.

د هلمند ولایت 19 اداري واحدونه لري ( مرکز لشکرگاه، گرشک، گرمسیر، ناوه ، نادعلی، خانشین، مارجه، سنگین، کجکې، نوزاد، بغنی، باغران، موسی قلعه، واشیر، نهرسراج، باباجی، بهرامچه، ناومیش او دیشو) دي.

80 سلنه نفوس یې په زراعت باندې بوخت دي چې غنم، جواری، لوبیا، کچالو، پیاز، رومي بانجان، مملي، گلپي بادرنگ، هندوانه، خټکي او داسی نور دي.

د مرکزي احصائې د ارقامو له رویه د نوموړي ولایت ټول نفوس1446230 تنه تخمین شوي دي.

ښوونې او روزنې خدمتونو ته لاسرسي پرمختگ کړی، اما دا خدمتونه په ټولو ولسوالیو کې یو شان ندي.

په نوموړي ولایت کې د سواد کچه 30 سلنه ده. په دغه ولایت کې 22 سلنه په ښاري ساحو کې او 78 سلنه په اطرافو کې ژوند کوي.

په یاد ولایت کې یو دولتي پوهنتون شتون لري، چې د زراعت، انجنیری، تعلیم و تربیه، وترنری او اقتصاد پوهنځي لري.

او درې بابه خصوصي پوهنتونونه هم فعالیت لري لکه بُست، وادي هلمند او اراکوزیا چې د حقوق، زراعت، طب انجنیری، ښوونه او روزنه او کمپیوټر ساینس فعاله پوهنځي لري.

په هلمند ولایت کې د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو په پروگرامونو کې ټولټال ۲۴۴۲ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري.

د عمومي زده کړو پروگرام اړوند ټولټال ۳۷۸ بابه ښوونځي لري، چې لدې جملې څخه ۹۶ بابه لیسې ۸۲ بابه منځني او ۲۰۰ لومړني ښوونځي دي.

په پورته ټولو ښوونځیو کې د عمومي زده کړو په برخه کې ۲۱۲۳۵۶ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې ۱۶۸۳۲۰ تنه ذکور او ۴۴۰۳۶ تنه اناث دي.

په یاد پروگرام کې2440 تنو ښوونکو لخوا تدریس ورکول کېږي، چې لدې جملې څخه 2015 تنه نارینه او 425 تنه ښځینه ښوونکي دي.

د پورته ټولټال ښوونکو څخه 5 تن نارینه ماسټر، 1113 تنه نارینه لیسانس، 661 تنه نارینه څوارلسم پاس 188 تنه ښځینه څوارلسم پاس، 421 تنه نارینه دولسم پاس، 48 تنه ښځینه دولسم پاس او 4 تنه نارینه د دولسم ټولگي نه کښته ښوونکي په تدریس بوخت دي.

په هلمند ولایت کې ټولټال ۵۶ خصوصي ښوونځي شتون لري، چې لدې جملې څخه ۳۲ بابه لومړني، ۱۰ بابه منځني، ۱۴ بابه لیسه ښوونځي دي.

خوشبختانه 3 بابه خصوصي مدرسې هم لرو، چې فعلاً برحال فعالیت لري.

په پورته خصوصي ښوونځیو کې ټولټال ۱۸۳۶۷ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه ۱۵۶۰۴ تنه نارینه او ۲۷۶۳ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

پورته ټولو زده کوونکو ته د680 تنو ښوونکو لخوا تدریس کېږي، چې لدې جملې څخه 523 تنه نارینه او 157 تنه ښځینه ښوونکي دي.

د اسلامي زده کړو د مرکزونو شمېر ټولټال ۲۰۰۸ بابه کېږي، چې لدې جملې څخه ۱۸۹۴ بابه مدرسې، 1 باب دارالعلوم او ۱۱۳ بابه دارالحفاظونه دي.

په پورته دیني مرکزونو کې ټولټال ۱۶۵۷۵۵ تنه طالب العلمان په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه ۱۵۰۱۲۸ تنه نارینه او ۱۵۶۲۷ تنه ښځینه طالب العلمان دي.

همدارنگه پورته طالب العلمانو ته د 6905 تنو مدرسینو لخوا تدریس کېږي، چې لدې جملې څخه 6859 تنه نارینه او 46 تنه ښځینه مدرسین دي.

د هلمند ولایت د ښوونکو د روزنې کې څلور حمایوي مرکزونه موجود دي چې جمله 388 نارینه او 74 ښځینه محصلین په 23 ذکور شعبو کې د 24 نارینه ښوونکو لخوا تدریس ورکول کېږي او همدارنگه ۴ علمي غړي لري.

هلمند ولایت ټولټال 153 بابه د سواد زده کړې فعال کورسونه لري ، چې لدې جملې څخه 133 تنه نارینه او 20 تنه ښځینه دي چې په دغه کورسونو کې 3825 تنه زده کوونکي زده کړې کوي، چې لدې جملې څخه 3325 تنه نارینه او 500 تنه ښځینه زده کوونکي دي او پورته زده کوونکو ته د 79 تنو ښوونکو له طرفه تدریس کېږي، چې لدې جملې څخه 69 تنه نارینه او 10 تنه ښځینه ښوونکي دي.

## سریزه

### بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:

د هلمند ولایت د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار د عناصرو او لومړیتوبونو پر بنسټ جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دي، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴۰۴ کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د عناصرو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکې دي.

۱ ـ د کړنو لنډېز برخه

۲ـ د عناصرو او لومړیتوبونو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیرۍ برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاتړو برخه

## د کړنو لنډیز

### 1.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د اسلامي زده کړو آمریت لخوا ۲۹۸ طالب العلمان په نوزاد، ناوه، گرشک، بغنی، خانشين، مارجه، کجکي، موسی قلعه، باغران، سنگین، نهرسراج او نادعلي ولسوالیو د مدرسو په لیلیو کې جذب شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د هلمند ولایت په کچه ۱۱۹ تنه د عالیه دورې علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د هلمند ولایت په کچه د خامسې او حفظ فارغانو لپاره ۷۰۵ جلده د فراغت سندونه ویشل شوي دي.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د ولایت په کچه ټولټال ۲۹۳ بابه ښوونځیو شوراگانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولایت په کچه ټولټال 17،180 تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي، چې له دې جملې څخه 12،693 تنه نارینه او 4،487 تنه ښځینه زده کوونکي دي.
- د دې ولایت په کچه په لومړنۍ دوره کې 1،550، منځنۍ دوره کې ۵۵ او په لیسه دوره کې ٦٠ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د ولایت په کچه ټولټال ۸۲ تنه کوچي زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د ولایت په کچه 3،350 تنه واجد شرایط کسان د رسمي ښوونکو له لوري د سواد زده کړې او همدارنگه ٦٠ تنه د حیاتي سواد په کورسونو کې شامل شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري ۲۰۰ تنه یتیم، بې وزله، د شهیدانو وارثین او معلول زده کوونکو خصوصي کورسونو ته معرفي شوي دي.
- د روغتیا مدیریت له لوري 1،323 تنو زده کوونکو ته د روغتیايي تبلیغاتي توکو، روغتیا ساتنې، نظافت او لومړنیو مرستو کیټونه ویشل شوي دي.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو لخوا په مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو کې د ۱۰۵۲ تنه استادانو ارزونه ترسره شوې ده.
- د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري په موسی قلعه او سنگین ولسوالیو کې ۴۵ تنو ته د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانت غړو ته د ظرفیت لوړونې په موخه ورکشاپ ورکړل شو.
- له رشتې سره سم په 329 بابه ښوونځیو کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا د ښوونکو توظیفولو د لار ښود له تطبیق حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولایت په کچه ۴۳ تنه علمي غړي په بیلا بیلو رشتو کې استخدام شوي دي.

- د مرکزي هستې علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو اړوند ۱۱۵ تنه علمي غړو ته د يونيسف په مالي لګښت د ندو، چوکاټ، د دندو لايحو، ځارنيزو وسيلو، د افکارو روښانولو او مسؤليت منلو په برخه کې ورکشاپ ورکړل شو.
- د ليک لوست زده کړې په ښوونيز کورسونو کې ۹ تنه افتخاري او رضا کاره ښوونکي جذب شوي دي.

### 3. نصاب

- د خپرونو مديريت له لوري د ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو د سهم په اساس 4،850 ټوکه ديني کتابونه ويشل شوي دي.
- د مرکز لښکرګاه، ناوې، باغران، نادعلي، باباجي او نهر سراج ولسواليو ته ۱٦۰ جلده د بدني روزنې اړوند لارښود کتابونه ويشل شوي دي.
- د خپرونو مديريت له لوري د هلمند ولايت په کچه کليوالي مدرسو ته 55،689 جلد د تير کال کتابونه او همدارنګه 2،44،656 جلد کتابونه د عمومي زده کړو ويشل شوي دي.
- د خپرونو مديريت له لوري د پوهنې رياست له ګدام څخه د ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونوته 97،922 جلد کتابونه ويشل شوي دي.

### ۵. ښوونيز چاپيريال

- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د ولايت په کچه ټولټال 1،060 تنو علمای کرامو د سويې تثبيت ترسره شوی دی.
- د ولايت په کچه د ثانويه مرحلې( د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ټولټال3،797 تنو څخه ګډه ازموينه واخيستل شوه.
- د ولايت په کچه ټولټال ۹۲۴ تنه د سادسه او سابعه دورې د علمای کرامو څخه ګډه ازموينه واخيستل شوه.

### 5. روزنيز چاپېريال

- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د ګرمسير او سنګين ولسوالۍ اړوند دوه بابه مدرسو کې ټولټال ۲۰۰ تنه طالب العلمانو لپاره ليليه جوړه شوې ده.
- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د هلمند ولايت په کچه ټولټال ۱۰۲ ديني مدرسې تأسيس شوي دي.
- د ښوونکو د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسواليو د پوهنې آمريتونو اړوند ۳۳۴ ټولګي پيژندل شوي دي، چې ښوونکې نه لري.
- د ولايت په کچه ټولټال ۳۴۵ بابه ديني مدرسو نومونه تغير شوي دي.
- د ښار په شمول په ټولو ولسواليو کې په تعداد د ۳۳ بابه ښوونځی او ۱۰۸ بابه ټولګي پيژندل شوي دي چې په ازاده فضاء کې قرار لري.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو اړوند ۲۳۹ بابه ښوونځيو څخه د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظيفولو او د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړيزه ځارنه ترسره شوې ده.
- د ولايت په کچه د ۱۲ خصوصي کورسونو او همدارنګه د ۱۳ بابه خصوصي ښوونځيو نومونه تأييد شوي دي.

- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د ویش له بهیز څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د ولایت په کچه ۱۲ بابه ښوونځي پیژندل شوي دي چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري.
- د ګرشک ولسوالی په کچه د ۳ خصوصي ښوونځیو ( خلاندګرشک، لمر ګرشک او ذکي ګرشک) نومونه تغیر شوي دي.
- د ولایت په کچه ټولټال ۱۳۹ بابه د سواد زده کړې کورسونه د رسمي ښوونکو له لوري جوړ شوي دي.
- د کوچیانو لپاره ۸ د سواد زده کړې کورسونه په مرکز لښکرګاه، نادعلي او مارجې ولسوالی کې د قراردادي ښوونکو له لوري رامنځته شوي دي.

### 6. د ټولنې ګډون

- د سواده زده کړې برنامې د ښه تطبیق په موخه ۱۰ کمیټې په کلیو کې جوړې شوي دي، او همدارنګه د سواد دکمېټو له لوري د ولایت په سطحه ۴، د ولسوالیو په کچه ۱۰ او د کلیو په کچه ۱۰ داني غونډې جوړې شوي دي.
- د سواد زده کړي مدیریت له لوري ۶۷تنه زده کوونکي ٦ تنه ښوونکي او یو تن کارمند په معنوي ډول تشویق شوي دي.

### 7. مدیریت

- د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او ناوه، نادعلي، مارجه، ګرشک او ګرمسیر ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۴۹ بابه ښوونځیو کې د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د ۱۱۸ بابه سواده زده کړې، ۱ باب حیاتي سواد زده کړې ښوونځی او ۳۳۱ د عمومي زده کړو ښوونځیو څخه دوامداره څارنه ترسره شوې ده.
- د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د 3،231 رشتې مطابق ښوونکو د تدریس له جریان څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د ولایت په کچه ټولټال ۱۰۴ بابه حویلی په کرایه نیول شوي دي او همدارنګه ۸۰ باب کانتینونه په کرایه ورکړل شوي دي.
- د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د ۳۹۷ تنو مدیرانو او ۴۷۳ تنو سرښوونکو د کاري کړنو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته 4،570 سپینې شهادتنامې وېشل شوي دي.
- د خپرونو مدیریت له لوري ۲۱۰ ټوکه عرفان، ۳۵۰ ټوکه ولوله او فکر وکړه او همدارنګه ۹۸۷ ټوکه د اونیزې مجلې د ښار او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

### د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو کمبود.
- د سواد زده کړې لپاره د کورسونو نه موجودیت.
- د نویو مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره د زده کړیز پروګرامونو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبود.

### حل لارې او وړاندیزونه :

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو رالیږل.
- د سواد زده کړې لپاره د سواد زده کړې کورسونو جوړول .
- د نوي مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره زده کړیز ورکشاپونه جوړول او بودیجې ورکول.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجې رالیږل.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبودات پوره کول.

## د عملياتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**برنامه 1: اسلامي زده کړې**

### 1.1. طالب العلم او حافظ/زده کوونکې/سواد زده کړو زده کړیال

### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۱.۱ فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه، نادعلی، ناوه میش، باغران، سنګین، بهرامچه، خانشین، ګرمسیر، دیشو او ناوې ولسوالیو کې ټولټال ۲۹۸ تنه طالب العلمان په مدرسو او دارالحفاظونو کې جذب او د دیني زده کړو زمینه ورته مساعده شوې ده، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۱۹۳ تنه نارینه او ۱۰۵ ښځینه طالب العلمان دي.

**۱.۲ فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه په مرکزي دارالعلوم کې ټولټال ۱۸۸ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه لومړي ټولګي ته ۷۳ تنه، د ۱-۳ ټولګي ته ۳۵ تنه، ۴-۶ ټولګي ته ۱۵ تنه، ۷-۹ ټولګي ته ۱۸ تنه،۱۰-۱۱ټولګی ته ۱۰ تنه، ۱۲ـ۱۴ ټولګي ته ۳۷ تنه طالب العلمان نوي شامل شوي دي.

**۱.۳ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په لیلیو کې جذب شوي طُلاب**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په نوزاد، ناوه، ګرشک، بغنی، خانشین، مارجه، کجکي، موسی قلعه، باغران، سنګین، نهرسراج او نادعلي ولسوالیو کې ۲۹۸ تنه طالب العلمان د مدرسو په لیلیوکې جذب شوي دي، چې په دې سره یاد طالب العلمان د لیلیې د آسانتیاوو څخه برخمن شوي دي.

### 1.1.2 لومړیتوب: د علمي سیالیو په لاره اچول

**۱.۱ فعالیت: د مدرسو او دارالعلومونو د طالب العلمانو تر منځ د علمي سیالیو په لاره اچول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ګرشک ولسوالۍ د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په نوموړې ولسوالۍ کې د ۳۴ بابه دیني مدرسو طالب العلمانو ترمنځ علمي سیالۍ په لاره واچول شوه، چې په یاده سیالۍ کې ۴۲۷ تنه طالب العلمانو ګډون کړی وو.

### ۱.۱.۳ لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**۱.۱ فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازموینې اخیستنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هلمند ولایت په کچه د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له ۱۱۹۳ تنه طالب العلمانو څخه ازموینه واخیستل شوه، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۶۲۰ تنه د ثانوي او ۵۷۳ تنه د مافوق ثانوي دورې ګډون شامل دي.

**۱.۲ فعالیت: د خامسې او حفظ فارغانو لپاره د فراغت د اسنادو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د هلمند ولایت په کچه د خامسې او حفظ فارغانو لپاره ۷۰۵ جلده د فراغت سندونه وېشل شوي دي.

۱.۱.۴ لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

۱.۱ فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د هلمند ولایت په کچه ۱۱۹ تنه د عالیه دورې علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوي دي.

## 1.2 مدرس/ استاد/ښوونکي

### ۱.۲.۱ لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو لخوا د هلمند ولایت پوهنې ریاست، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د رشتې خلاف د لاربوود د تطبیق په اړه مدرسینو ته لارښوونې شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو لخوا د هلمند ولایت پوهنې ریاست، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د دارالعلومونو په کچه ۱۰۰سلنه د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

### ۱.۲.۲ لومړیتوب: د صنفي اصولو/ لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

۱.۱ فعالیت: د لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړوآمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د لاربوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د هلمند ولایت پوهنې ریاست، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د دارالعلومونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د لاربوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

### ۱.۲.۳ لومړیتوب: له رشتې سره سم پر وخت د ښونیزو مرکزونو د تشو بستونو لپاره د مسلکي مدرسینو ګمارنه

۱.۱ فعالیت: د کړنلارې مطابق د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې له رشتې سره سم له مسلکي مدرسینو څخه د ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د هلمند ولایت په کچه ټولټال ۳۵۲ تنه مدرسین استخدام شوي دي.

### ۱.۲.۴ لومړیتوب: د علمي کادر اجراء کول

۱.۱ فعالیت: د دارالعلومونو استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراکول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی،ځکه چې د دارالعلومونو استادانو د علمي کادر او علمي رتبو د اجرا شرایط نه دي پوره کړي او هم د وزارت لخوا تر امر ثاني پورې معطل شویدي.

### ۱.۲.۵ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په مرکزونوکې د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه

۱.۱ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د هلمند ولایت په کچه ټولټال ۱۰۵۲ تنه استادانو ارزونه ترسره شوې ده.

### ۱.۲.٦ لومړیتوب: له ولایتونو څخه د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري راپور ترتیب او د اسلامي زده کړو معینیت سره په خپل وخت شریک شوی دی او تأیید شوی دی.

## 1.3 نصاب

### ۱.۳.۱ لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالی په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د تدوین شویو ۲۸ عنوانی کتابونو تشریح او لارښوونې پروګرام د پوهنې وزارت مقام د راغلي هیئت لخوا په لاره اچول شویدي.

### ۱.۳.۲ لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو چېرل

۱.۱ فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د خپل سهم په اساس ۴۸۵۰ ټوکه دیني کتابونه وېشل شوي دي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### ۱.۴.۱ لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او خوارلسم ټولګي د علمای کرامو د سویې تثبیتول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د هلمند ولایت په کچه ټولټال ۱۰٦۰ تنو علمای کرامو د سویې تثبیت ترسره شوی دی، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۸۵۰ تنه د دوولسم ټولګي او ۲۱۰ تنه د خوارلسم ټولګي شامل دي.

### ۱.۴.۲ لومړيتوب: د ولايتونو په کچه د ګډې ازموينې اخيستل

۱.۱ فعاليت: د ثانويه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموينه اخيستل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده‌کړو معينيت له لوري، د هلمند ولايت په کچه د ثانويه مرحلې ټولټال۳۷۹۷ تنو څخه ګډه ازموينه واخيستل شوه.

۱.۲ فعاليت: د فوق ثانويه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموينه اخيستل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده‌کړو معينيت له لوري، د هلمند ولايت په کچه ټولټال ۹۲۴ تنه د سادسه او سابعه دورې د علمای کرامو څخه ګډه ازموينه واخيستل شوه.

## 1.5 روزنيز چاپيريال

### ۱.۵.۱ لومړيتوب: په مرکز او ولايتونوکې د مدرسو رامنځته کول

۱.۱ فعاليت: د نارينه طالب العلمانو لپاره د ديني مدرسو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د هلمند ولايت په کچه ټولټال ۱۰۲ ديني مدرسې تأسيس شوي دي.

### ۱.۵.۲ لومړيتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعيت بدلون او مُبيت رامنځته کول

۱.۱ فعاليت: په ۳۴ ولايتونوکې د ليليي رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د ګرمسير ولسوالۍ اړوند په يوه باب مدرسه کې د ۲۰۰ تنو طالب‌العلمانو لپاره او همدارنګه د سنګين ولسوالۍ په يوه باب مدرسه کې د ۵۰ تنو طالب‌العلمانو لپاره ليليې ترتيب برابر شوی دی.

۱.۲ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د نويو ښوونيزو مرکزونو تأسيسول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري، د هلمند ولايت په کچه ټولټال ۷۰ بابه د اسلامي زده کړو ښوونيز مرکزونه تأسيس شوي دي.

۱.۳ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوعيت بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده‌کړو آمريت له لوري د هلمند ولايت واشير ولسوالۍ کې د دريو مدرسو نوعيت له کليوالي څخه درجوار ته د بدلون په موخه، او همدارنګه د نادعلي ولسوالۍ اړوند د سليمان خيلو مدرسې د دارالعلوم درجې ته د ارتقا لپاره اسناد ترتيب، طي مراحل او د منظورۍ لپاره مرکز ته لېږل شوي دي.

۱.۴ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولايت په کچه ټولټال ۳۴۵ بابه ديني مدرسو نومونه تغير شوي دي.

۱.۵ فعاليت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د نادعلي ولسوالۍ اړوند سليمان خيلو مدرسې دارالعلوم ته د ارتقاء په موخه اسناد طی مراحل او د منظورۍ په موخه مرکز ته استول شوي دي.

۱.٦ فعاليت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د هلمند ولایت په کچه دارالعلوم ته د ارتقاء په موخه د مدرسو څخه څېړنه ترسره شوې ده.

### 1.6 د ټولنې ګډون

**د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دي شامل.**

### 1.7 مدیریت

#### ۱.۷.۱ لومړیتوب: د دارالعلومونو د استاذانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

**۱.۱ فعالیت: د دارالعلومونو د استاذانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه ۳۳۳ تنه استاذان، ۱۹ تنه اداري کارمندان او ۱ تن خدماتي اجیر د آزاد رقابت له لارې استخدام شوي دي. چې د یادو کسانو په اسخدام سره د استاذانو او اداري کارمندانو د کمبود ستونزه تر یوه حده حل شوې ده.

#### ۱.۷.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

**۱.۱ فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند مدرسو ته د ضرورت په اساس ۳۵۲ بستونه ویشل شوي دي.

#### ۱.۷.۳ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش

**۱.۱ فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند نوي جدید التأسیس مدرسو ته ۲۱۵ بستونه انتقال شوي دي.

## برنامه ۲: ښوونه او روزنه

### ۲.۱ زده کوونکي

#### ۲.۱.۱ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی

**۱.۱ فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو مسلکي پراختیا ریاست له لوري د ۱۴۰۵ ښوونیز کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایت پوهنې ریاست،ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې.

**۱.۲ فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو د  ټیم لخوا د پوهنې ریاست په کچه یوه غونډه، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه ۱۹ غونډې او د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۳۲۹ د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره واچوي.

**۱.۳ فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، په مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۲۹۳ بابه ښوونځیو شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

**۱.۴ فعالیت: د بېلابېلو کچو په سړو او تودو سیموکې لاربښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت لخوا د ولایت پوهنې ریاست، د مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه ۱۰۰ سلنه د عامه پوهاوي پروګرامونه دایر شوي دي.

**۱.۵ فعالیت: د غړیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه ۲۵۰ تبلیغاتي پاڼې او بروشرونه چاپ او وېشل شوي دي، همدارنګه یو صوتي کلیپ د غړیزو رسنیو له لارې هم خپور شوی دی.

## ۲.۱.۲ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې تو ګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۱.۱ فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غیرحاضري او زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د عامه پوهاوي له لارې د زده کوونکو د ښوونځیو د پرېښودلو او غیر حاضري په برخه کې ۲ سلنه ټیټوالی راغلی دی.

**۱.۲ فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند ټولو ښوونځیو کې د هلمند ولایت په کچه ټولټال ۱۷۱۸۰ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۱۲۶۹۳ تنه نارینه او ۴۴۸۷ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**۱.۳ فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لیسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لندمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه په لومړنۍ دوره کې ۱۵۵۰، منځنۍ دوره کې ۵۵ او په لیسه دوره کې ۶۰ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.

**۱.۴ فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشموله زده‌کوونکو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت په کچه ۸۲ تنه کوچي زده کوونکي د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت لخوا جذب شوي دي.

**۱.۵ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د همکارو مؤسسو په مرسته له ښوونځي څخه په مخکې برنامه کې د جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت لخوا په خصوصي ښوونځیو کې په تعداد ۲۷۵ تنه زده کوونکي د ښوونځی مخکي دورې کې جذب شویدي.

**۱.٦ فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضي راستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګي تثبیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري ۲۱۳ تنه زده کوونکو څخه د صنف تثبیت ازموینه واخیستل شوه چې یاد زده کوونکي له بهرنیو هیوادونو څخه راغلي ول چې د تثبیت امتحان څخه وروسته د مرکز لښکرگاه، گرمسیر او کجکي ښوونځیو ته معرفي شوي دي، او همدارنگه ۱۵۲۰ تنو مجاهدینو څخه د تثبیت صنف ازموینه اخیستل شوې ده.

### ۲.۱.۳ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو لویانو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

۱.۱ فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمې د ټولو په شرایطو برابرو لویانو د نوملړ چمتوکول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت په کچه ۳۳۵۰ تنه واجد شرایط کسان د رسمي ښوونکو له لوري د سواد زده کړې او همدارنگه ٦۰ تنه د حیاتي سواد په کورسونو کې شامل شوي دي.

۱.۲ فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت له لوري ۱۷۵ تنه لویان واجد شرایط کسان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شوي دي.

۱.۳ فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د جوماتونو د ملا امامانو له لارې ۲۵ تنه پر شرایطو برابر لویان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شوي دي.

۱.۴ فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت په کچه ۳۳۵۰ تنه واجد شرایط کسان د رسمي ښوونکو له لوري د سواد زده کړې او همدارنگه ۲۰ تنه د حیاتي سواد په ښوونځیو کې شامل شویدي.

۱.۵ فعالیت: په حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیو کې د شته لویانو لپاره د زده کړې زمینې برابرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیو کې ۲۰ تنه لویانو لپاره د زده کړې زمینه مساعده شوې ده.

۱.٦ فعالیت: د بې ځایه شویو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۲.۱.۴ لومړیتوب: د روغتیایي مرکزونو په همکارۍ د جدیدالشمولانو له روغتیا په ځانگړې توگه د اوریدو، لیدو، د خولې او غاښونو د فضا او ساري ناروغیو له معاینې څخه اطمینان

۱.۱ فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له سالمې روغتیا څخه اطمینان

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکزي دارالایتام ۵۷۰ تنه  یتیم زده کوونکي د روغتیا مدیریت لخوا معاینه شوي دي.

### ۲.۱.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت(WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کیټونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش

۱.۱ فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي توکو، روغتیاساتنې، نظافت او لومړنیو مرستو د کیټونو وېشل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د روغتیا مدیریت له لوري ۱۳۲۳ تنو زده کوونکو ته د روغتیایي تبلیغاتي توکو، روغتیا ساتنې، نظافت او لومړنیو مرستو کیټونه ویشل شوي دي.

### ۲.۱.۶ لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه‌کولو سراسري کمپاین

**۱.۱ فعالیت: د ښوونځیو په کچه د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټو وېشل**

د اساسي او ثانوي زده‌کړو مدیریت اړوند د روغتیا مدیریت له لوري، د مرکز ښار او یو شمېر ولسوالیو په کچه، شاوخوا ۱۵۰۰۰ عدد البندازول ټابلیټونه ویشل شوي دي.

### ۲.۱.۷ لومړیتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

**۱.۱ فعالیت: د هغو زده‌کوونکو د درېکلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، ۵ تنو زده کوونکو د درې کلنو نمرو جدولونه ترتیب او اسناد یې طی مراحل شوي دي.

**۱.۲ فعالیت: له اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجراکول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري په مرکز لشکرگاه، مارجه، ناوه، گرمسیر، موسی قلعه، گرشک، سنگین او کجکي ولسوالیو کې ۲۱۰۰ تنه زده کوونکو څخه د انگلیسي او کمپیوټر په برخه کې امتحان واخیستل شو چې د امتحان څخه وروسته یادو زده کوونکو ته تصدیق نامې و وېشل شوې.

**۱.۳ فعالیت:په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د یتیمو او بې وزله ماشومانو، د شهیدانو ورثې او معلولینو د فیس د تخفیف اجرا کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري ۲۰۰ تنه یتیم، بې وزله، د شهیدانو وارثین او معلول زده کوونکو خصوصي کورسونو ته معرفي شوي دي.

### ۲.۱.۸ لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپیاد(علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرول

**۱.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ترسره شوی، څکه چې له مرکز څخه هلمند ولایت پوهنې ریاست ته د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې.

**۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ترسره شوی، څکه چې د هلمند ولایت پوهنې ریاست له لوري د پوهنې آمریتونو ته  د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې.

**۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې آمریتونو لخوا د ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې.

۱.۴ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ کال ددریمي ربعې ترپای پورې د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو د ساینس المپیاد سیالیو پروژه د ښوونیزو مرکزونو لخوا ترسره شوې ده.

۱.۵ فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریت په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو د ساینس المپیاد سیالیو پروژه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لخوا ترسره شوې ده.

٦.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست په کچه د ساینس المپیاد سیالیو پروژه د هلمند د پوهنې ریاست اړوند د مرکز ساینس مدیریت لخوا ترسره شوې ده چې د هغه جملې څخه د هوا تصفیې دستګاه د ولایت په سطحه لومړی مقام او د هیواد په سطحه څلورم مقام ترلاسه کړی دی.

## 2.2 ښوونکې

### ۲.۲.۱ لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ بېولو لپاره د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو ښوونه

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس ریاست له لوري ٦ تنه علمي غړي مرکز کابل ته د ښوونیزې برنامې د دایرولو په موخه غوښتل شوي دي.

### ۲.۲.۲ لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یوه کلنه برنامه دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعالیت د امکاناتو او طرزالعمل د نشتون په اساس ندی ترسره شوی.

۱.۲ فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري په موسی قلعه او سنګین ولسوالیو کې ۴۵ تنو ته د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانت غړو ته د ظرفیت لوړونې په موخه ورکشاپ ورکړل شو.

### ۲.۲.۳ لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

۱.۱ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري په موسی قلعه او سنگین ولسوالیو کې ۲۳۸ تنو ته د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانت غړو ته د ظرفیت لوړونې په موخه ورکشاپ ورکړل شو.

### ۲.۲.۴ لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لپاره اړین تدبیرونه نیول

۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت د پوهنې ریاست او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د خلاف رشته ښوونکو د ستونزو د حل لپار ۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنه او معلوماتو راټولول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو ښوونځیو کې د رشتې خلاف ښوونکو ۱۰۰ سلنه معلومات راټول شوي دي.

### ۲.۲.۵ لومړیتوب: له رشتې سره سم د شته مدرسینو، استادانو او ښوونکو د توظیفولو لپاره اړین تدبیرونه نیول

۱.۱ فعالیت: له رشتې سره سم د ښوونکو توظیفولو د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، له رشتې سره سم د ښوونکو توظیفولو د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو ته ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا۱۰۰ سلنه  لارښوونه ترسره شوې ده.

۱.۲ فعالیت: له رشتې سره سم د ښوونکو توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، له رشتې سره سم په۳۲۹ بابه ښوونځیو کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا د ښوونکو توظیفولو د لارښود له تطبیق ۱۰۰ سلنه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

### ۲.۲.٦ لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه اړین تدبیرونه نیول

۱.۱ فعالیت: د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت د  پوهنې ریاست او د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو او د ښوونیزو مرکزونو کې د اصول صنفي ټولگیو لپاره د مناسب ترین ښوونکو توظیف کولو لپاره د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.

۱.۲ فعالیت: د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو کې د اصول صنفي ټولگیو لپاره د مناسب ترین ښوونکو توظیف کولو د تطبیق څخه د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا ۱۰۰ سلنه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

**۲.۲.۷ لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا غړو ګمارنه بشپړه کول او هغوی ته لارښوونه کول چې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي.**

**۱.۱ فعالیت: د ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو د ګمارنې بشپړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه ۴۳ تنه علمي غړي په بیلا بیلو رشتو کې استخدام شوي دي.

**۱.۲ فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو لپاره د دندو چوکاټ، د دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، د افکارو روښانولو او مسؤلیت منلو په برخه کې د معرفتي او لارښودیزو ښوونیزو برنامو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت پوهنې ریاست د مرکزي هستې علمي غړو له لوري د مرکز لنبکرګاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۱۵ تنه علمي غړو ته د یونیسف په مالي لګښت د ندو، چوکاټ، د دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، د افکارو روښانولو او مسؤلیت منلو په برخه کې ورکشاپ ورکړل شو.

**۱.۳ فعالیت: د ولایتونو د مرکزي هستې علمي غړو لپاره د ښوونیزو تړننګ دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د راغلي هیئت په واسطه د مرکزي هستې ۱۳ تنه علمي غړو ته د ظرفیت لوړونې درې ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.

**۲.۲.۸لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا غړو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونو ترسره کول**

**۱.۴ فعالیت: د ښوونیزې اداري شورا د علمي غړو ظرفیت لوړونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار په شمول په ۱۹ ولسوالیو کې د ښوونیزې اداري شورا علمي غړو ته د ظرفیت لوړونې پروګرام دایر شوی دی.

**۲.۲.۹ لومړیتوب: د جدیدالتقرر ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا**

**۱.۱ فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د جدید التقرر ښوونکو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۱.۲ فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د جدید التقرر سرښوونکو او مدیرانو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۲.۲.۱۰ لومړیتوب: د ښوونکو، زده کونکو او کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړونې برابرول**

**۱.۱ فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لنبکرګاه پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې ۸۴ تنو ښوونکو ته د حفظ الصحي او پاکو اوبو په اړه عامه پوهاوی ترسره شوی دی.

**۱.۲ فعالیت: د روغتیایي مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لنبکرګاه پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې ۵ تنه مدیرانو ته د حفظ الصحي او پاکو اوبو په ړه عامه پوهاوی ترسره شوی دی.

**۲.۲.۱۱ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د ځایي خلکو همکاري**

۱.۱ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د ځايي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د لیک لوست زده کړې په ښوونیز کورسونو کې ۹ تنه افتخاري او رضا کاره ښوونکي جذب شوي دي.

## 2.3 نصاب

### ۲.۳.۱ لومړیتوب: د اړوندو مضمونو په ښوونه کې له عیني چاپېريالي توکو او تجربو څخه د ګټې اخیستنې رواجول

۱.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د ساینس مدیریت علمي غړو ته د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.

۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري د لارښوود د تطبیق لپاره ۱۰۰ سلنه لارښوونې شوي دي.

۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرگاه، مارجه، نادعلي، گرمسیر، سنگین، گرشک، او موسی قلعه ولسوالی د ښوونیزو مرکزونو له لوري عملي تجربو برمهال د لارښوود دتطبیق لپاره ۱۰۰ سلنه لارښوونې شوي دي.

### ۲.۳.۲ لومړیتوب: له ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو لارښود کتابونو بیا کتنه او د هغو وېشل

۱.۱ فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېشل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز نصاب اړوند د ساینس،روغتیا، ریاضي او کمپیوټر د تجربوي لارښود ۴۳ جلده کتابونه ښوونیزو مرکزونو ته ویشل شوي دي.

### ۲.۳.۳ لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو(د ریاضي، بیولوژي کیټونو او چارټونو او ښوونیزو ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي د زمینې برابرول

۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز نصاب اړوند د ساینس،روغتیا، ریاضي مضمونو اړوند ۱۰۰ سلنه درسي کومکي ممد مواد، فزیک، ریاضي او بیولوژي کیټونه او چارټونه ښوونیزو مرکزونو ته ویشل شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ناوې، نادعلي،مارجې، گرشک او ښار د پوهني امریتونو اړوند ۱۰ بابه ښوونځیو ته ۱۰۰ سلنه درسي مرستندویه مواد ویشل شوی دی.

۱.۳ فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ساینس،ریاضي، بیولوژي او فزیک کیټونه، رنګه او ساده چارټونه چي مجموعه ۸۹۲ قلمه درسي مرستندویه مواد ویشل شوی دی چي د یادو مرستندویه موادو څخه په تعداد د ۱۳۲۱۲ تنه زده کوونکي مستفید شوي دي.

### ۲.۳.۴ لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې لپاره د کمبود درسي کتابونو په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن ویش

۱.۱ فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیود پوهنې آمرینو سره د کتابونو د کمښت او همدارنګه د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز او د ښوونیزو مرکزونو د اړتیا په موخه ۱۰۰ سلنه اړتیا سنجول شوې ده .

### ۲.۳.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د ښوونکي د لارښودکتاب ویش

۱.۱ فعالیت: د پوهنې د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب ویش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه او ناوې، باغران، نادعلي، باباجي او نهر سراج ولسوالیو ته ۱۶۰ جلده د بدني روزنې اړوند لارښود کتابونه ویشل شوي دي.

### ۲.۳.٦ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

۱.۱ فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیا سنجونه ترسره شوې ده او وړاندیز یې د پوهنې وزارت مقام ته لیږل شوی دی.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

## 2.5 روزنیز چاپیریال

### ۲.۵.۱ لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونوکې د لابراتوار او کمپیوټرلبونو رامنځته کول او تجهیزول

۱.۱ فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په شمول د مارجې، نادعلي،ګرشک، ګرمسیر،باباجي او واشیر ولسوالیو د ۱۰ بابه ښوونیزو مرکزونو لپاره د لابراتوارونو اړتیا او نظر سنجي ترسره شوې ده.

۱.۲ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ساینس مرکز له لوري د ښار د پوهنې آمریت اړوند بولان مرکزي او لوی کاریز لیسو ته۲ لابراتوارونه نوي ایجاد شوي دي.

۱.۳ فعالیت: په سامان آلاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ساینس مرکز ریاست له لوری په مارجه،نادعلي،گرشک او ښار اړوند په ٦ بابه ښوونځیو لابراتوارونو ته مواد وېشل شوي او همدارنگه د ښار اړوند ۱ باب لښکري بازار غربي لیسې ته دولس پایې دیسکتاپ کمپیوتران ورکړل شوی دي.

## ۲.۵.۲ لومړيتوب: په گدامونو او اداروکې د استفادې وړ سرچينو پېژندنه او د هغو متوازن وېش(درسي کتابونه، میز او چوکی، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه باب، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري مواد)

۱.۱ فعالیت: په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسايلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د لشکرگاه ښار، مارجه، نادعلي، گرمسیر، سنگین، گرشک او موسی قلعه ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لابراتواري مواد وېشل شوي دي، او د ښوونيزو مرکزونو مدیرانو او ښوونکو ته د عملي تجربو پر مهال د چاپیریالي موادو او وسایلو د کارونې په اړه ۱۰۰ سلنه معلومات ورکړل شوي دي، همدارنگه، د ښار پوهنې آمریت اړوند غازي امان الله خان لیسې او په مارجه ولسوالۍ کې بلاک ۹ ته د مربوطه آمریتونو له لوري ۱۰۰ سلنه لابراتواري مواد او وسایل ویشل شوي دي.

## ۲.۵.۳ لومړيتوب: د بې ښوونکي ټولگيو لپاره د اړينو تدبيرونو نيول

۱.۱ فعالیت: د بې ښوونکو درسي ټولگيو پېژندنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرگاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۳۳۴ ټولگي پيژندل شوي دي، چې ښوونکې نه لري.

۱.۲ فعالیت: د هغو ښوونیزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت يې له ټاکل شوي نورم څخه ټيټ دي

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، داسي کوم ښوونيز مرکز نه لرو چي د زده کوونکو نسبت يې د ټاکلي نورم څخه ټيټ وي.

۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، اساسی او ثانوی زده کړو رياست له لوری د بې ښوونکو ټولگيو د معلوملو لارښود د پوهنې رياست ته ۱۰۰ سلنه تطبيق شوی دی.

۱.۴ فعالیت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې رياست له لوری د بې ښوونکو ټولگيو د معلوملو لارښود د ولسواليو پوهنې آمريتونو ته ۱۰۰ سلنه تطبيق شوی دی.

۱.۵ فعالیت: د لاښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسواليو پوهنې آمريتونو له لوری د بې ښوونکو ټولگيو د معلوملو لارښود ښوونيزو مرکزونو ته ۱۰۰ سلنه تطبيق شوی دی.

۱.٦ فعالیت: په ښوونيزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې یاد لارښود ۱۰۰ سلنه تطبیق شوي دی.

۱.۷ فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د ( د خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتو کولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره ۱۰۰ سلنه همغږي ترسره شوې ده.

## ۲.۵.۴ لومړیتوب: د آزادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۱.۱ فعالیت: د هغو ښوونځیو پېژندنه چې په آزاده فضاکې د ټولګیو لرونکي دي او دهغو ټولګیو چې په آزاده فضاکې قرار لري
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو کې په تعداد د ۳۳ بابه ښوونځی او ۱۰۸ بابه ټولګي پیژندل شوي دي چې په ازاده فضاء کې قرار لري.

۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت مقام له لورې ولایت د پوهنې ریاست ته ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.

۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست له لورې د ولسوالیو د پوهنې امریتونو ته ۱۰۰ سلنه لارښود تطبیق شوی دی.

۱.۴ فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لورې د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو کې ښوونیزو مرکزونو ته ۱۰۰ سلنه لارښود تطبیق شوی دی.

۱.۵ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلې کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د ښوونیزو مرکزونو مدیریت لخوا د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو کې ښوونیزو مرکزونو کې لارښود ۱۰۰ سلنه پلې شوی دی.

۱.٦ فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لګه (د خېمې او کرایې ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپیریال لګه ( د خیمې او کرایې ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره ۱۰۰ سلنه همغږي ترسره شوې ده.

## ۲.۵.۵ لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په خاصه توګه د لومړي ټولګي لپاره د بهترین ټولګي د ځانګړې کولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

**۱.۱ فعالیت: د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۳۲۹ بابه ښوونځیو څخه د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو او د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ۱۰۰ سلنه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

**۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري هلمند ولایت ته د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.

**۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،د پوهنې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري لشکرګاه په شمول ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونوته ۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شویدي.

**۱.۴ فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري ښوونیزو مرکزونوته ۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شویدي.

**۱.۵ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند په ښوونیزو مرکزونو کې ۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شویدي.

## ۲.۵.۶ لومړیتوب: له (دمې پرته) د ښوونیزکال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د شروع لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**۱.۱ فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښوونیز کال په پیل کې په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ۱۰۰ سلنه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

**۱.۲ فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د ویش له بهیر څخه ۱۰۰ سلنه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

**۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز کال د پیل لپاره د اماده ګې نیولو په موخه د مرکز له لوري هلمند ولایت ته د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.

**۱.۴ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز کال د پیل لپاره د اماده ګۍ نیولو په موخه د پوهنې ریاست له لوري د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د لارښود دتطبیق په اړه لارښوونې ترسره شوي دي.

۱.۵ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز کال د پیل لپاره د اماده ګۍ نیولو په موخه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې ترسره شوي دي.

۱.٦ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونیز کال د پیل لپاره د اماده ګې نیولو په موخه د هلمند ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې لارښود ۱۰۰ سلنه پلي شوی دی.

۲.۵.۷ لومړیتوب: حداکثر په دوو ټایمونوکې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره اړین تدبیرونه نیول
۱.۱ فعالیت: د هغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه ۱۲ بابه ښوونځي د ښوونکی روزنې او مسلکي پراختیا غړو له لوري پیژندل شوي دي چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري.

۱.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د ولایت پوهنې ریاست ته د لارښود د تطبیق په موخه ۱۰۰ سلنه لازمې لارښوونې ترسره شوي دي.

۱.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د لارښوود دتطبیق په موخه ۱۰۰ سلنه لازمې سپارښتنې ترسره شوي دي.

۱.۴. فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د لارښوود دتطبیق په موخه ۱۰۰ سلنه لازمې سپارښتنې ترسره شوي دي.

۱.۵. فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې ۱۰۰ سلنه لارښوود پلي شوی دی.

۲.۵.۸ لومړیتوب: د هېواد په کچه د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول او ښوونځیو متوازنه جوړونه
۱.۱ فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د نویو تأسیس شویو ښوونځیو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت د مارجې په ولسوالۍ کې یو باب امارتي ښوونځی د محمداسماعیل ابتدائیه په نامه تاسیس شوی ده.

۱.۲ فعالیت: له لومړنیو منځنیو او منځنیو څخه لیسې ته د ښوونځیو لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت د نوزاد ولسوالي اړوند د میانجوی یو باب ابتدائیه ښوونځی متوسطې او د ښار د پوهنې امریت اړوند د دښت بولان منځنۍ ښوونځی لیسې ته د ارتقاء په موخه اسناد مرکز ته لیږل شوي دي.

**۱.۳ فعالیت: د هغو کلیو او محلاتو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن د ستونزې او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده‌کړې بې برخې پاتې دي د هغوی لپاره د بدیلو خدماتو برابرول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په شمول په ټولو ولسوالیو کې په هغو محلاتو کې چې زده کوونکي یې د جغرافي موقعیت له مخې له زده کړو بې برخې دي د هغو زده کوونکو لپاره الحاقي جوړې شوي دي.**

**۱.۴ فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون؛**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولایت د پوهنې ریاست اړوند تر اوسه پورې د کوم امارتي او خصوصي ښوونځیو نومونه تغیر شوی ندي ځکه چا غوښتنه نده کړې خو د ګرشک ولسوالی په کچه د ۳ خصوصي کورسونو ( ځلاندګرشک، لمر ګرشک او ذکي ګرشک) نومونه ۱۰۰ سلنه تغیر شوي دي.**

**۱.۵ فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو( ښوونځیو او کورسونو) د نوم تأییدول؛**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه د ۱۲ خصوصي کورسونو او همدارنګه د ۱۳ بابه خصوصي ښوونځیو نومونه تأیید شوي دي.**

**۱.٦ فعالیت: د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له راپور وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس کړنلارې او اساسي او ثانوي زده‌کړو د لایحې د شرایطو نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو د درسي شعبو مدغمول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره سوی،ځکه چې د هلمند ولایت په کچه یوه ښوونکي ته په اوسط ډول ۱۰۵ تنه زده کوونکي په ټولګي کې ناست وي، دا فعالیت ممکن ندی ځکه چې د ښوونکو تشکیل کم دي.**

**۱.۷ فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره سوی،ځکه د هلمند ولایت په کچه یوه ښوونکي ته په اوسط ډول ۱۰۵ تنه زده کوونکي په ټولګي کې ناست وي، دا فعالیت ممکن ندي ځکه چې د ښوونکو تشکیل کم دي.**

**۱.۸ فعالیت: د ولایتونو په کچه له موجوده ولسوالۍ څخه بلې وړاندیز شوې ولسوالۍ یا ولایت ته د ښوونځیو لېږد او ثبتول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په ښوونځیو کې د تشکیل کمبود دی.**

**۱.۹ فعالیت: د یوې ولسوالۍ/ ښوونیزې حوزې په کچه د بست د اړتیا او کمښت په صورت کې له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته له زمرې څخه د اضافه بستونو لېږدول**
**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،۲ بستونه د نامور ښوونځي، ۲ بستونه د خواجه احمد مدرسي څخه او ۱ بست د وزیر محمد اکبر خان ښوونځي څخه د مارجې ولسوالی د محمد اسماعیل ښوونځي ته انتقال شوي وی .**

### ۲.۵.۹ لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ښه‌والي او ودانۍ جوړولو په موخه د ستونزو پېژندل

**۱.۱ فعالیت: د اړتیا او لزوم دید سره سم د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو تر شخړې لاندې پروژو د چارو بیالیدنه او همغږي**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعالیت د حوت په میاشتې کې د اجرأ وړ و، چې مالي کال تغیر شو.

۱.۲ فعالیت: د پروژو د تطبیق په منظور د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند په تعداد ۱۱۷ ښوونځی ودانیوته اړتیا لري او په تعداد د ٦٦ ښوونځی نیمه کاره دي چې تراوسه پوري ندي تکمیل شوی.

۱.۳ فعالیت: له ښکېلو ادارو سره د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه همغږي چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنو له لارې دې اداري ته رارسېږي
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعالیت د حوت په میاشتې کې د اجرأ وړ و، چې مالي کال تغیر شو.

۱.۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ریاستونو له ښکېلو اړخونو سره د عمومي زده‌کړو د جدیدالتأسیس، ارتقایي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې ( د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعالیت د حوت په میاشتې کې د اجرأ وړ و، چې مالي کال تغیر شو.

### ۲.۵.۱۰ لومړیتوب: د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ساحې شنه کول

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په ښوونځیوکې د شنو ساحو د رامنځته کولو لپاره د بوټو او ګلانو کښېنول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار د پوهنې آمریت اړوند په ۴۰ بابه ښوونځیو کې د شنو ساحو د رامنځته کولو په موخه د بوټي او ګلان کینول شوي دي او زده کوونکو ته يي په اړه د ساتنې عامه پوهاوی ورکړل شوی دی.

### ۲.۵.۱۱ لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د اړوندو ساحو نظافت او پاکوالی

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د پاکوالي لپاره د حشرکارونو په لاره اچول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د حشر کارونه په لاره اچول شوي دي.

### ۲.۵.۱۲ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او ورزشکارانو د احصائیې ترتیب او چمتوکول

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د لوبغالو او بېلابېلو څانګو د لوبغاړو د احصائیې راټولول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز لښکرګاه د پوهني آمریت اړوند د ٦٠ بابه ښوونځیو کی د لوبغاړو او بیلابیلو څانګو لوبغاړو ۱۰۰ سلنه احصائیه راټوله شوي ده.

### ۲.۵.۱۳ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول

۱.۱ فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو په کچه ۱۳۹ د سواد زده کړې کورسونه د رسمي ښوونکو له لوري جوړ شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۱۲ کورسونه د ښځینه او ۱۲۷ کورسونه د نارینه وو دي.

**۱.۲ فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځه کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد آموزي له خوا د حج او اوقافو ریاست سره په تفاهم د سواد زده کړې یو کورس نوی ایجاد شوی دی.

**۱.۳ فعالیت: د راستنېدونکو او بې ځایه شویو لپاره د سواد زده‌کړې د کورسونو رامنځته کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې دنشتون له امله نه دی ترسره شوی د بودیجې او امکاناتو د موجودیت په صورت کې به یاد فعالیت ترسره شي او یاده موضوع مو د مهاجرینو ریاست سره شریکه کړې ده ولې د مهاجرینو ریاست له لوري تر اوسه کوم معلومات ندي راکړل شوي.

**۱.۴ فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د کوچیانو لپاره ۸ بابه د سواد زده کړې کورسونه چې ۷ بابه ذکور او ۱ باب د اناث لپاره په مرکز لښکرگاه، نادعلي او مارجې ولسوالیو کې ایجاد شوي دي.

### ۲.۵.۱۴ لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکول، اعتبار ورکول او پراختیا

**۱.۱ فعالیت: په ټول هېوادکې د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو تأسیسول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه، گرمسیر، نادعلي، مارجه او کجکي ولسوالۍ کې ۱۰ بابه خصوصي ښوونځی او همدارنگه ۱۰ بابه خصوصي کورسونو تأسیس شوي دي.

**۱.۲ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د جوازونو تمدید او اعتبار ورکونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت په کچه د ۱۰ بابه خصوصي ښوونځیو او همدارنگه د ۱۰ باب(زیارمل گرشک، ځلاند گرشک، ډاد من گرشک او خپلواک درمان ) خصوصي کورسونو جوازونه تمدید شوي دي.

**۱.۳ فعالیت: له لومړنۍ څخه منځنۍ او له منځنۍ څخه لېسې ته د خصوصي ښوونځیو لوړول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه او نادعلي ولسوالیو کې ۲ بابه ښوونځی ( فیض روحاني او هلمند سیال) ښوونځیو د لومړنۍ څخه منځنۍ او همدارنگه ۲ بابه ښوونځی ( نصیب اشنا او نورالبشر ) د منځنۍ څخه لیسې ته ارتقاء کړې ده.

**۱.۴ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د سپارلو او ملکیت د لېږد بهیر آسانه کول او ملاتړ**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، ۱ باب خصوصي ښوونیز مرکز د ( ولي ) په نوم مخکني مؤسس څخه وه نوي مؤسس ته سپارل سوی دی.

## ۲.٦ د ټولنې گډون

### ۲.٦.۱ لومړیتوب: د ملي ورځو په مناسبت د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د سپورتي جشنوارو په لاره اچول

**۱.۱ فعالیت: د ملي ورځو په مناسبت د مرکز او ولایتونو په کچه د سپورتي جشنوارو په لاره اچول**
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د افغانستان د خپلواکی د ورځي په مناسبت د ښار د پوهني آمریت اړوند ۱۰ خصوصي ښوونځیو ترمنځ یو د فوټبال ټورنمنټ په لاره اچول شویدي او لوبي ئي ترسره شوي دي.

### ۲.٦.۲ لومړیتوب: د سواد زده کړې په برخه کې د تعلیمي نظام د پراختیا لپاره د ټولنې گډون راجلبول

۱.۱ فعالیت: د مرکز، ولایتونو، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچینو د بسیج لارښود کړنې او لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواده زده کړې مدیریت له لوري د سواده زده کړې پروګرامونو د پرمختګ لپاره د هلمند ولایت پوهنې ریاست، د مرکز لښکرګاه، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په سطحه د لیک لوست زده کړې برنامې د پرمختګ په موخه ۱۰۰ سلنه لازمې لارښوونې او اړینې سپارښتنې ترسره شوې دي.

۱.۲ فعالیت: د سواد زده کړې برنامې د ښه تطبیق لپاره د ملي او سیمه ایزو سرچینو پېژندل، جلب او جذب او ملاتړ
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواده زده کړې برنامې د ښه تطبیق په موخه ۱۰ کمیټې په کلیو کې جوړې شوې دي، او همدارنګه د سواد دکمېټو له لوري د ولایت په سطحه ۴، د ولسوالیو په کچه ۱۰ او د کلیو په کچه ۱۰ دانې غونډې جوړې شوې دي.چې ۷۵ سلنه چارې ترسره شوې دي خو د یادو غونډو کې د اقتصادي ستونزو او مشکلاتو له امله چا مالي مرسته نه ده کړې.

۱.۳ فعالیت: د سیمې د خلکو لخوا د نمونه سواد زده کوونکو، ښوونکو او کارکوونکو مادي او معنوي تشویق
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت له لوري ٦۷ تنه زده کوونکي ٦ تنه ښوونکي او یو تن کارمند په معنوي ډول تشویق شوي دي.

### 2.7 مدیریت

#### ۲.۷.۱ لومړیتوب: د هغو زده‌کوونکو لپاره د ښوونې او روزنې زمینه برابرول چې له هېواده بهر په افغاني او غیر افغاني ښوونځیوکې د زده‌کړې د ادامې غوښتونکي دي

۱.۱ فعالیت: د زده‌کوونکو د ترانسکرپت ترتیبول او ښوونیزو سوابقو پړاوونو تېرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ٦ تنو زده کوونکو ترانسکرپټ او د ۴ ښوونیز سوابق ترتیب او بهر ته د زده کړو د تګ په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوي دی.

#### ۲.۷.۲ لومړیتوب: په ښوونځیو کې د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د نظم څارنه او بیاکتنه

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د ډسپلین له نظم څخه څارنه او د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د فعالیتونو څېړنه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار د پوهنې امریت اړوند د څلور بابه ښوونځیو د څارندوی ټیمونو د فعالیت څخه څارنه شوې ده.

#### ۲.۷.۳ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د څارندوی او څارنجونو د تروپونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

۱.۱ فعالیت: د څارندوی لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،د څارندوی مدیریت له لوري په ښوونځیو کې د څارندویو او څارنجونو د تروپونو د رامنځته کولو او فعالولو په موخه ۱۰۰ سلنه لارښوونې ترسره شوي دي.

#### ۲.۷.۴ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ترافیک څارندوی د ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

۱.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه ښار کې په تعداد د ۲۰ بابه ښوونځیو کې د ترافیکو ټیمونو کمیټې جوړي شویدي او یاد لارښود ۱۰۰ سلنه تطبیق شوي دی.

### ۲.۷.۵ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د څارندوی د اطفائیې ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

۱.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په ښوونځیو کې د څارنیو او اطفایه ټیمونه جوړ کړي دي او یاد لارښود ۱۰۰ سلنه تطبیق شوي دی.

### ۲.۷.٦ لومړیتوب: د راپورونو شننه او توحیدول او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

۱.۱ فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، شننه او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند ټولو مدیریتونو څخه د حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد او سنبلې، میزان، عقرب، قوس، جدي او دلو میاشتې راپورونه ترلاسه شوي چې د تحلیل او توحید څخه روسته د بعدي اجراآتو په موخه اړوند مرجع سره شریک شوي دي.

### ۲.۷.۷ لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره توکو د زیانونو پوهاوی ورکول

۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د مخدره توکو د زیانونو او استفادې پر ضد د پوهاوي ورکولو د پیغامونو ترتیب او چمتوکول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښار په ۳۲ بابه امارتي اوخصوصي ښوونځیو کې د مخدره توکو د زیانونو په اړه ۱۰۰ سلنه پوهاى ورکړل شوى دى.

### ۲.۷.۸ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې د نتیجه بښوونکو خدمتونو د برابرولو په منظور د سواد زده کړې برنامې د سیمه ایزو کارکوونکو د ظرفیت لوړونې ورکشاپ په لاره اچول

۱.۱ فعالیت: د دغه ریاست د سواد زده‌کړې د دقیقو راپورونو د ارایه کولو او په ډېټابېس کې د سواد زده کړې برنامې د ارقامو او احصائیې درجولو په موخه د راپور ورکونې او ډېټابېس ورکشاپ جوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز لښکرگاه کې د ښوونیز کال په پیل کې د راپور ورکولو او احصایې په اړه ورکشاپ ورکړل شو.

۱.۲ فعالیت: د محل په کچه د سواد زده‌کړې برنامې په تطبیق کې د ملي او محلي سرچینو د ملاتړ جلبولو په موخه د سرچینو د بسیجولو ورکشاپ جوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت له لوري په مرکز لښکرگاه کې د ښوونیز کال په پیل کې د سواده زده کړې برنامې د پلي کولو لپاره د ملي او محلي سرچینو د بسیج او جلب په موخه یو ورکشاپ جوړ شو.

۱.۳ فعالیت: له ځانه د زده‌کړو لرونکو اشخاصو د تثبیت او پېژندلو او هغوی ته د زده کړې د ادامې ورکولو زمینې د برابرولو په موخه د ځاني وړتیاوو د ارزونې ورکشاپ جوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت له لوري په مرکز لښکرګاه کې د سواد زده کړې پروګرام کې د شامل شویو کسانو د وړتیاوو د ارزونې، د سواد د کچې د تثبیت، انفرادي ښوونې او د ښوونیز بهیر د دوام لپاره یو ورکشاپ دایر شوی و.

### ۲.۷.۹ لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د ساینس مرکز د علمي غړو د خالي بستونو استخدام

۱.۱ فعالیت: د علمي کادر له منظورې شویې مقررې سره سم د علمي غړو ګمارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، ۲ تنه د بیولوژۍ اویوتن د مرکز ساینس مدیرت ته د پوهنې وزارت محترم مقام له لوري مقرري شوي دي.

### ۲.۷.۱۰ لومړیتوب: په تعلیمي مرکزونو کې د لابراتوارو او کمپیوټرلبونو چارو ملاتړیزه څارنه

۱.۱ فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له لوري د مرکز لښکرګاه او ناوه، نادعلي، مارجه، ګرشک او ګرمسیر ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۴۹ بابه امارتي او خصوصي ښوونځیو کې د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

### ۲.۷.۱۱ لومړیتوب: د ښوونکو، سرښوونکو او تعلیمي مرکزونو د تدریسي پروسې ملاتړ کوونکې لیدنه او څارنه او د مرکزي او ولایتي مسلکي پراختیایي ټیمونو د فعالیت پلي کول ډاډمن کول

۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د ښوونکي روزنې او مسلکي پراختیا له مرکزي هستې څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، څکه چې له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی تر څو د مسلکي پراختیا علمي غړو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره کړي خو د مرکزي هستې علمي غړو د ښار په شمول د ۱۸ بابه ولسوالیو د ۱۰۵ تنه علمي غړو سره د ورځني اداري چارو په اړه ملاتړیزه څارنه کړې ده.

۱.۲ فعالیت: د عمومي زده‌کړو او حیاتي سواد له ښوونځیو او سواد زده‌کړې له کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د ۱۱۸ بابه سواده زده کړې، ۱ باب حیاتي سواد زده کړې ښوونځی او ۳۳۱ د عمومي زده کړو ښوونخیو څخه دوامداره څارنه ترسره شوې ده.

۱.۳ فعالیت: د ښوونیزکال په بهیرکې لږترلږه څلور ځلې د رشتې مطابق د ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د ۳۲۳۱ رشتې مطابق ښوونکو د تدریس له جریان څخه څارنه ترسره شوې ده.

۱.۴ فعالیت: په ښوونیزکال کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کارکړنو د بهیر لیدنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په مرکز لښکرګاه او ټولو ولسوالیو کې د ۳۹۷ تنو مدیرانو او ۴۷۳ تنو سرښوونکو د کاري کړنو څخه څارنه ترسره شوې ده.

۱.۵ فعالیت: په ولایتي کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو د علمي راپورونو شننه، توحید او وړاندې کول؛

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مدیریت له لوري د حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد او سنبلې، میزان، عقرب، قوس،جدي او دلو میاشتو د کړنو علمي راپور تحلیل او توحید شوی دی چې له توحید څخه وروسته د ښوونې او روزنې معینیت سره شریک شوی دی.

### ۲.۷.۱۲ لومړیتوب: په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه

**۱.۱ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرگاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۳۱۸ باب ښوونیز مرکزونو کې په شرایط برابرو ماشونو د شمولیت له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

### ۲.۷.۱۳ لومړیتوب: د خصوصي ښوونځیو د قانوني او باکیفیته فعالیت لپاره د زمینې رامنځته کول

**۱.۱ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو څېړنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، څکه چې نوموړی فعالیت د مرکز پوري اړه لري.

### ۲.۷.۱۴ لومړیتوب: ستونزو ته رسیدگي، تصدیق‌لیکونو ته اعتبار ورکول او د خاصو معلوماتو راټولول

**۱.۱ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونوکې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ۲ بابه خصوصي ښوونځیو د زده کوونکو ستونزو ته رسیدگي شوي ده.

**۱.۲ فعالیت: په ډېټابس کې د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌پاڼو ثبتول او اعتبار ورکونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په ډیټابیس کې د ۶۰۰ تنه خصوصي کورسونو د زده کوونکو تصدیق پاڼې ثبت شوي دي.

### ۲.۷.۱۵ لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د تدریس کېفیت ښه کولو لپاره زمینه برابرول

**۱.۱ فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو بېلگه‌ایزکنټرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز لښکرگاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند د ۲۰ بابه خصوصي مکتبونه او ۱۱ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه څارنه ترسره شوې ده او د تدریس د کیفیت لوړوالي په موخه زمینه ورته برابره شوې ده.

## برنامه 3: تضمین کېفیت

### ۳.۱ مدیریت

### ۳.۱ لومړیتوب: د احصائیې دقیق راټولول، چمتوکول او شریکول او احصائیوي ارقاموته د ادارو آسانه لاسرسی

**۱.۱ فعالیت: د احصائیې او معلوماتو راټولونې د فورمې وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائیې او معلوماتو راټولول، د احصائیوي فورمو خانه پري او د معلوماتو سیستم په مدیریت (EMIS) کې د معلوماتو ثبتول.**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د احصایی مدیریت له لوري د مرکز لښکرگاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۲۴۲۹ بابه ښوونځیو او خصوصي مدرسو ته احصائیوي فورمونه چاپ او ویشل شوي دي،چې یاد حصائیوي فورمونه له خانه پری څخه وروسته راټول او په سیستم کې ثبت شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د ۱۴۰۴ کال د احصائیوي ارقامو پاکول یا Data cleaning
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د هلمند ولایت د ټولو ښوونځیو او مدرسو د معلوماتو تصفیې Data cleaning بهیر ۱۰۰ سلنه ترسره شوی او له مرکز سره شریک شویدي.

۱.۳ فعالیت: د هېواد د ښوونیزو بنسټونو د 1404 کال ارقامو تائید او تصدیق
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړوند احصایې مدیریت لخوا د ښار او ولسوالیو د ۲۰ بابه ښوونځیو او مدرسو د ارقامو تایید او تصدیق شویدي.

۱.۴ فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده کړو بنسټونو د مسؤلینو د ظرفیت لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د احصائیې مدیریت له لوري د مرکز لشکرګاه او د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو او مدرسو مسؤلینو ته د احصایې په اړه سیمینار ورکړل شوی دی.

۱.۵ فعالیت: د پوهنې د معلوماتو مدیریت د نوي سیستم پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوموړی فعالیت د عملیاتي پلان په اساس د مرکز مربوط دي.

۱.٦ فعالیت: د نویو تأسیس شویو، مدغم شویو او ځای بدلون مندونکو ښوونیزو بنسټونو د ځانګړتیاوو راټولونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د نویو تأسیس شویو، مدغم شویو او ځای بدلون مندونکو ښوونیزو بنسټونو د ځانګړتیاوو ۷۵ فورمونه خانه پري پري شوي دي.

۳.۲ لومړیتوب: د ۱۴۰۴کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول؛

۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې د ۳۵ ریاستونو او همکارو مؤسسو د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او سپارښتنو تعقیب
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې ریاست څخه د راغلي هیئت له لوري د هلمند ولایت پوهنې ریاست او همکارو مؤسسو د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

۱.۲ فعالیت: د ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او اروزنې ریاست څخه د راغلي هیئت او همدارنګه د هلمند ولایت د څارنې او ارزونې مدیریت علمي غړو له لوري د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

۱.۳ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او اروزنې ریاست څخه د راغلي هیئت او همدارنګه د هلمند ولایت د څارنې او ارزونې مدیریت علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت، باباجی، موسی قلعه،ګرشک، سنګین او نادعلی ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او اړوند ښوونیزو مرکزونو څخه څارنه ترسره شوې ده.

۳.۳ لومړیتوب: د پوهنې وزارت په بېلابېلو کچوکې د راپور ورکولو د سیستم پرمختیا، پلي کول او ښه‌والی

۱.۱ فعالیت: د لومړیتوبونو / عملیاتي پلان پر اساس د راپور ورکونې آنلاین سیستم اصلاح، نوي کول او تطبیق

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې ریاست اړوند د راپور ورکولو آمریت له لوري د راپور ورکونې آنلاین سیستم اصلاح او فعاله شوی دی.

۱.۲ فعالیت: له مرکز، ولایتونو او ولسوالیو څخه د عملیاتي پلانونو د تطبیق د میاشتنیو راپوروونو را ټولول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې مدیریت د راپوروونو د تحلیل او توحید غړو له لوري د مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو څخه د حمل څخه تر دلو۱۹۰ میاشتنې راپوروونه راټول شوي دي چې یاد راپوروونه تحلیل او توحید شوي دي.

۱.۳ فعالیت: له مرکز، ولایتونو او ولسوالیو څخه د عملیاتي پلانونو د تطبیق د ربعوارو راپوروونو را ټولول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې مدیریت د راپوروونو د تحلیل او توحید غړو له لوري د پوهنې ریاست اړوند آمریتونو، مستقلو مدیریتونو، مرکز لښکرگاه او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو څخه ۷٦ ربعوار راپوروونه او همدارنگه د مرکزي هستې د دفتر مدیریت پشمول د څلورو برنامو څخه ۲۰ ربعوار راپوروونه راټول شوي او نهایي شوي دي.

۱.۴ فعالیت: د راټولو شویو ربعوارو راپوروونو شننه او توحید
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې مدیریت اړوند تحلیل او توحید غړو له لوري، د هلمند ولایت علمیاتي پلان د کړنو د پرمختگ لومړی، دویمې، درېیمې او څلورمې ربعې راپوروونه ترتیب او په خپل وخت د څارنې او رزونې ریاست اړوند د راپور ورکولو آمریت سره شریک شوي دي.

۱.۵ فعالیت: د پوهنې وزارت د وېب سایټ له لارې د عملیاتي پلان د پرمختگ د راپوروونو خپرول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې یاد فعالیت د څارنې او ارزونې ریاست له لوري ترسره کیږي.

## ۳.۴ لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارنې او ارزونې ریاست د کارکوونکو ظرفیت لوړول

۱.۱ فعالیت: دڅارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخې د کارکوونکو او ادارو د راپور ورکونې د مسؤلینو او لپاره د ښوونیزې بستې چمتو کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې ریاست څخه د راغلي هیئت له لوري د څارنې او ارزونې مدیریت علمي غړو سره د څارنې او ارزونې برخې ښوونیزې بستې چمتو شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې د برخې ولایتي کارکوونکو زده‌کړه او ظرفیت لوړونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د څارنې او ارزونې ریاست د را غلي هیئت له لوري د څارنې او ارزونې مدیریت علمي غړو ته د څارنې او ارزونې په برخه کې روزنه ورکړل شوې ده.

## ۳.۵ لومړیتوب: د شهادتنامو د ترتیب او وېش د پروسې د پړاووونو طي کول

۱.۱ فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د متفرقه شهادتنامو ترتیب، تدقیق، د پړاوانو طی او وېشل
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د کیفیت دتضمین آمریت اړوند د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د ۹۳ تنو اسلامي زده کړو زده کوونکو او ۲۳ تنو ښوونکو د روزنې فارغ زده کوونکو شهادتنامې په متفرقه شکل طی مراحل او وېشل شوي دي.

۱.۲ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د انفرادي را استول شویو شهادتنامو ترتیب، تدقیق، د پړاوونو طی او وېشل
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د عمومي زده کړو آمریت اړوند ۹۵۱ تنو فارغانو او همدرانگه د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۱۸ تنو فارغانو او د ښوونکو د روزنې ۲۱ شهادتنامې په انفرادي ډول طی مراحل شوي دي.

۱.۳ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ډله ایزو را استول شویو شهادتنامو ترتیب، تدقیق، د پړاوانو طی او وېشل
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د عمومي زده کړو آمریت اړوند ۴۵۹۲ تنو فارغانو او د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۱۰٦ تنو فارغانو او همدارنگه د ښوونکي روزنې اړوند ۱۱ تنو فارغانو شهادتنامې په ډله ییز ډول د افغان پوسټ له لارې د پوهنې وزارت ته د تأیید لپاره استول شوي دي.

۱.۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو اد پوهنې ریاستونو ته د شهادتنامو د سپینو پاڼو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري د مرکز لښکرگاه او د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ۴۵۷۰ سپینې شهادتنامې وېشل شوي دي.

### ۳.٦ لومړیتوب: د ښوونیزو بنسټونو د فارغانو نتایجو ته اعتبار ورکول او د کیفیت تضمینول

۱.۱ فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د ۱۴۰۳ کال د فارغینو د پایلو جدولونو تطبیق او تائید
